سرلوڅ مرادزی ۲۰۱۴ / ۰۳ / ۰۵

د کرزي د نهیلۍ او سیاسي ماتو روستۍ شیبې

دولتمشر کرزي چې امریکا سره د امنیتي تړون د لاسلیک په اړه د مشورتي لویې جرګې له پریکړې روسته، په کور دننه او نړیواله کچه له همکارۍ او ملاتړنهیلی شوی، غواړي خپله نهیلي او ماتې لویدیځ او په تېره بیا امریکا سره د سیاسي دودیزه ژبې او اړیکو له چوکاټه بهر، په لمسونکو ناندریو او تبلیغاتي شخړو جبیره کړي!

کرزی نن سبا لویدیځ او امریکا سره، د ایران د پخواني ولسمشر احمدي نژاد، د طالبانو د سرخېل ملاعمر او اسلامي ګوند د مشرګلبدین حکمتیار په منطق او دلایلوغږیږی او حتي په روستیو څو میاشتو کې یې د امریکا په وړاندې د یادو کړیو او ډلو له پروپاګیندې هم پښه اړولې ده.

د لیکنې په پیل کې باید عرض شي چې دلته، د امریکایي نظام د ختې او یا په افغانستان کې د امریکایي چارواکو له تېروتنو او ختاوو څخه چې جلا مبحث دي، څېړنه او ننګه نه کیږي، بلکې د لویدیځو هیوادو اوامریکا سره د بل هر دولت پشان د بحث خبره، د افغانستان د متقابلو ملي ګټو او اړیکو پر محور راځرخي چې افغانانو ته نن مهال لکه اوبه او هوا اړینه ګڼل کیږي.

دلته دوه خپلواک هیوادونه او د دولتونو متقابلې ګټې او اړیکې تر بحث لاندې دي نه نور څه!

افغانان هیڅکله د مجاهدینو او طالبانو د ۹۰ لسیزې پشان، په نړۍ کې ګوښه شوی، درې وړې او پریوتي افغانستان بیا نه غواړي! افغانستان اوس له هغه ګورندې څخه راوتلی او غواړي په نړۍ کې د نورو ملتونو او دولتونو پشان ځلا، برم او لویا ولري!

امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوست سره په تازه مرکه کې چې د ۲۰۱۴ کال د مارچ په دریمه ترسره شوې، دولتمشر کرزی وایی « القاعده تر حقیقت زیاته یوه افسانه ده او په دې نوم په افغانستان کې د امریکا جنګ د افغانستان په ګټه نه و. پژواک»

همداراز کرزی په دې مرکه کې بل ځای زیاتوي « بله وسله نه لرم چې ځواب پرې ووایم، بله وسیله هم نشته مګر دا چې په جار ووایم او دې مسلې ته د خلکو پام راواړوم. په بله ژبه زه مجبور شوم چې نور غږ پورته کړم . تاند»

ددې مرکې او د کرزي د نورو روستیو څرګندونو په اړه دلته څو پوښتنې په یوه وخت کې راولاړیږي چې پوره پام ته اړتیا لري.

لومړی پوښتنه دا ده چې دولتمشر کرزی ولې دا په جار وینا، د خپلې واکمنۍ په تېرو ۱۳ کلونو کې له خولې نه راباسي، ولې او د څه لپاره چوپ و، اوس چې دده د واکمنۍ یوازې یوه میاشت پاتې ده، ایا داسې پاروونکې خبرې د افغانانو د تېرویستلو او له خپلو تېروتنو څخه د ځان د خوندیتوب لپاره نه کوي؟

ایا نوموړی امریکا سره د امنیتي تړون په اړه د مشورتي لویې جرګې له پریکړې روسته پوه شوی چې « القاعده تر حقیقت زیاته یوه افسانه ده » او که پخوا هم پوهېده، خو ځان یې چوپ نیولی وو او دا راز یې داسې وخت ته ساتلی وو چې کله له واکه لویږي، نو هغه مهال به یې د نورو موخو لپاره، ساده زړو افغانانو ته ښکاره کوي او د خپلې دوه مخې څېرې د پټولو لپاره به ترې د یوې وسیلې پټوګه کار اخلي؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

اوس چې څوک ورسره، له ۱۳ کلن ناکام واک څخه زیات، په واک کې پاتېکېدل نه مني، نو ځکه وايي « زه مجبور شوم چې نور غږ پورته کړم»!

بلخوا باید وویل شي اوس دا خبرې افغانانو ته څه ګټه رسوي چې کرزی يې د ریښتیا په نوم، د سپینکي کاکا پشان د لمر په تاوده پېتاوي کې د دیواله ترشا په هره جرګه او مرکه کې کوي. ایا د ریښتیا ویلو په نوم دا ډول خبرې نړیوالو سره د افغانستان د اړیکو د خرپړتیا په بیه نه تمامیږي، ایا کرزی او حواریون يې په دې نه پوهیږي؟

لږ مخکې چې د امریکا په ګډون، کرزي د نورو لویدیځو هیوادو سره ستراتیژیک تړونونه لاسلیکول، ولي« القاعده تر حقیقت زیاته یوه افسانه » نه وه؟

اوس چې القاعده تر حقیقت زیاته افسانه یادیږي او بلخوا دا چې کرزی زیاتوي امریکا او لویدیځ د خپلو ګټو لپاره افغانستان ته راغلي، نو بیا دا تړونونه ددغوهیوادو د ګټو لپاره ولې لاسلیک شول؟

په سیاست کې دا ډېره زړه او لومړۍ خبره ده چې هر هیواد خپلو ملي ګټو پسې ګرځي. امریکا او لویدیځ افغانستان ته بېشکه خپلو ګټو پسې راغلي او دا د لمر پشان یو څرګند حقیقت دی، دا د ښاغلي کرزي کوم نوی کشف نه شو بللای!

امریکا او لویدیځ افغانستان ته اړتیا لري، نو ځکه دلته راغلي، خو افغانستان هم امریکا او لویدیځ ته تر هغو زیاته اړتیا لري، نو ځکه غواړي چې هغوی دلته پاتې وي.

د یوه ریښتیني سیاست دنده دا ده چې د دواړو لورو اړتیاوې او ګټې یوله بل سره په اندول کې راولي. دا به غټه ناپوهي او یا بله ستونزه وي، که ووایو چې لویدیځ او امریکا دې له خپلو ګټو تېره شي او دا چې زموږ هیواد ته راغلي، یوازې دې د افغانانو ګټې په پام کې ونیسي. امریکا او لویدیځ سره زموږ بېلا بېلې ګټې تړلې دي او افغانستان سره د هغو ګټې هم تړلې دي او دا د هیوادپالو سیاستوالو دنده ده چې دا ګټې وپېژني او په اندول کې راولي او د خپلو ولسونو لپاره تربنه په دوستۍ، ښېرازۍ او سوکالۍ کې ګټه پورته کړي.

لومړی وار امریکا، لویدیځ، عربانو او پنجاب، پخواني شوروي سره د مقابلې، سیالۍ او خپلو ګټو په لامل د کرزي په ګډون مجاهدین په ګډه پر افغانستان واکمن کړل. روسته یې مجاهدینو پسې القاعده او طالبان راوستل او دوی یې پرې له هیواد بهر وځغلول، بیایې په طالبانو پسې په بن کې جوړشوی حکومت راوست او طالبان یې پسې واخیستل او دا ټول یې ددې لپاره وکړل چې افغانستان کې بلاخره نسبي یوه نورماله واکمني رامنځته شي چې دوی ورسره په تعریف شویو اړیکو کې د معاملې لوری او جوګه وي. نو یې د کرزي په مشرۍ بن کې جوړ شوی حکومت او د هغه ادامه ددې لپاره غوره کړل چې له لویدیځ او امریکا سره په راتلونکې کې ښې اړیکې ولري. که په دې ټول بهیر کې چې د لویدیځ او امریکا په لاس او ملاتړ ترسره شوی، څوک اوس ټکه واچوي، هم د لویدیځ او هم د افغانستان په تاوان دي او دې ته اړتیا نشته چې وهل شوې لار یوځل بیا ووهل شي. نه ښایي یو وار بیا په لویلاس افغانستان د ۹۰ لسیزې ناورین ته ټېل وهو او هرڅه بیا د لویدیځ او امریکا پرځای په بل بدیل پورې چې هیڅ پته یې نه لګیږي او کرزی ته هم مالوم او څرګند نه دی او افغانانو ته یې هم په تېرو ۱۳ کلونو کې ونه شو ښودلای، وتړو.

نن روند او کوڼ هم په دې پوهیږي چې د لویدیځ په وړاندې ګډوډې څرګندوني، کرزي هغه مهال راپیل کړې کله چې هغه وپوهید، د لویدیځ په وړاندې نورهغه داسې سیاسي څېره نه ده چې د افغانانو ګټو سره د لویدیځ ګټې په یوه اندول کې راولي او د متقابلو ګټو پر بنسټ یوله بل سره د دوستۍ اړیکې ورغوي.

د امریکا او لویدیځ په وړاندې د کرزي روستۍ ګډوډې لکه امریکا سره امنیتي تړون، د ډیورنډ تپلې کرښې او ګندمک تړون سره یوشان ګڼل، د القاعده او ترهګرۍ په وړاندې په جګړه کې د امریکا او لویدیځ زړه نا زړه توب او یا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

امریکا د خپلو ګټو لپاره افغانستان ته راغلي، په راتلونکي واک کي د کرزي د غوښني وندې لپاره کيږي، نه د افغانستان د ګټو او ښېګڼو لپاره!

کرزی غواړي چې د اشرف غني په وړاندي، په راتلونکو ټاکنو کي په غلا او دوکي سره، زلمی رسول واک ته ورسوی او هغه لويديځ ضد لار چې تازه يي اختيار کړی، د زلمي رسول د واکمنی په مټ مخي ته يوسي!

د فساد په وړاندي د کرزي د ادارې نه اراده هم په بهرنيانو پورې تړل کيږي او په هيواد کي د ناوړه او مضرو مصلحتونو او سازشونو پړه هم د امريکا او لويديځ پرغاړه وراچول کيږي.

کرزي او ادارې يي ښه پلمه پيدا کړي، هغه چې په تېرو کلونو کي ښه او مثبت شوي، په ځان پورې او هغه چې ناکاره، ناوړه او منفي شوي، په بهرنيانو پسې تړي!

پای

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ